# د خوشحال خان خټک په کلام کښې د لساني شعور احساسات

# A linguistic Approach to the Poetry of Khushal Khan Khattak

Hameedullah Khan*
Dr. Sherzaman Seemab**

## ABSTRACT;

Khushal khan khattak (1022 -1100 A D) in his era he is like a shining star for Pashto language and literature. His great skill and literary Due to his potentials enlightened the Pashto language and literature. He is rightly called "Baba-i-Pashto" creative thinking The poetry of khushal khan not only awaken the Pashtoon but also give importance to Pashto language and literature. He also removed all the hurdles that faced the Pashto literature in his poetry the linguistic feelings are clearly seen that were lacking in the poetry before him.

**Key Words:** shining, skill, potentials, enlightened, creative, hurdles, feelings

د پښتو ادبیاتو په ابتدائي اثارو کښې د پښتو رومبے حماسي " **EPIC** " د امیر کروړ سوري جهان پهلوان د "ویاړنهٔ " په عنوان هغه نظمیه اثر دے. چې د امیر کروړ سوري د دور د کارنامو او فتوحاتو عکاسي کوي.

دا " ویاړنه " په پټه خزانه کښې د شیخ متهه سوري د" تاریخ سوري " څخه رانقل شوې ده[1].

ډاکټر راج ولي شاه خټک د امیر کروړ د دې نظم په حقله لیکي :

" دا یو اوږد نظم دے چې خالص د پښتو لغات لري. د بلې ژبې اثر پرے نیشته. په دے نظم کښې چې کومه رواني او ترنم دے. باید چې د موسیقۍ د یو اهنګ دپاره وئیلې شوې وي. ولې هر کله چې د وخت په ګرځدونو کښې د پښتو د موسیقۍ راګونه هم پټ دي نو په دې سبب د دې نظم ادبي خصوصیات خو ښکاره دي. ولې د دې دپاره د سازې شوې ( **Composed** ) موسیقۍ د هغه وخت درک نهٔ معلومیږي "۱

* SS Pashto Government Higher Secondry School Nawshera K Pakhtunkhwa
** Assistant Professor Pashto Academy UOP

[1] محمد بن داود هوتک ، پټه خزانه ، علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار ، کال ۱۳۹۰ مخ ۲۲ تا ۲۸

پوهاند عبدالحیٔ حبيبي د امير کروړ د ادبي دور( ۱۴۰ ه نه واخله تر ۴۰۰ ه) پورې د لساني پلټنې په حقله ليکي ؛

" په اسلامي دوره کښې دغه يو قديم شعر دے چې له پټې خزانې څخه زمونږ لاس ته راغلي دي. که څهٔ هم د پښتو ادب عمومي تحليلي کتنه او انتقادي څيړنه ما د ځلورم ټوک دوئيمې برخې ته پريښې ده. چې هلته به د پښتو ادب د مضامين او محتويات مفصلا راوړم. مګردلته هرې ادبي ټوټې ته بيل بيل ځير کاته په لنډ ډول لازم ګڼم. چې لا دغو کتنو او څيړنو څخه د ادب لومړني مزايا او خصايص څرګندېږي. او زمونږ وروستني ابحاث هم پر دغو کتنو بنا کيږي.

۱. د پښتو د زوړ شعر چې د هجري دوهمې پېړۍ له لومړۍ برخې څخه را پاتې دي. له ظاهري پلو يعني د ژبې او اداء او لغاتو او کلماتو له مخې مخصوص رنګ او زمونږ د اوسنۍ ژبې له محاوروي جريانو سره توپير لري ، ډېر داسې لغات او پښتو سوچه کلمات پکښې راغلي دي چې اوس متروک او مهجور دي او په عمومي محاوره او ادب کښې نهٔ استعماليږي.

د دې شعر له لساني پلټنې څخه سړے دا نتيجه اخيستلې شي. چې په دغه لومړنۍ دوره يعني په هجري اوله او دوهمه پېړۍ کښې پښتو ژبه په غور کښې د نور ژبو له اختلاط سوچه وه. او دا سوچه توب او خالصوالي ئې تر ( ۴۰۰ ه) پورې هم ساتلې دي او هر څو ئې چې په اسلامي دوره کښې پيړۍ پر تيريږي هغوي ژبه له سوچه توبه ليرې کيږي او نور عناصر په ګډېږي. تاسې دا شعر له سرتر پايه اوګورئ يو عربي يا پارسې لغت پکښې نشته. ځينې لغات ګرامري کيف او اشتقاقي ډول دا راښيي چې پښتو ژبې پخوا تر اوس قوي بنيه او غښتلې پرې درلود او د ايتمالوجي له پلوه ئې ډېر مزايا او خصايص لرله. چې اوس ئې متاسفانه بايللي دي. مثلا په دغه شعر کښې د کلماتو د ساختمان او جوړښت له پلوه داسې مواد شته. چې اوس يې نه لرو. " ۲

پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک د پټې خزانې د وړومبي دور د شاعرانو د شاعرانه ادبي معيار په حقله ليکي ؛

" د پټې خزانې د ځنو شاعرانو شاعري د اوچتې درجې ده او د اوسنۍ زمانې د شاعرانو رجحان مطابق ده. مثلا د امير کروړ رزميه نظم چې په تېرو پاڼو کښې مونږ د پټې خزانې نه

نقل کړه. یو معیاري نظم دے. دغه نظم په ۱۳۹ هـ کښې لیکلے شوے دے. دغه شان د شیخ اسعد سوري (د سلطان محمود غزنوي معاصر) هغه قصیده چې په څلویښتو شعرونو مشتمله ده. او د خپل ملګرې امیر محمد سوري چې د محمود غزنوي له اړخه د ورکړې شوي قبد په دوران کښې ئې له دې دنیا رحلت کړے وۀ. په وفات ئې لیکلې وه. او د هغۀ شخصیت او د مړانې کارنامې ئې پکښې ستائیلي دي.
د سلطان شهاب الدین محمد غوري ۵۶۹ هـ - ۶۰۲ هـ د معاصر ښکارندوئي هغه قصیده چې پیځه څلویښت شعرونه لري. او پکښې ئې د سلطان شهاب الدین مدح بیان کړې ده. او د شیخ متي د (پیدائش ۶۲۳ هـ) غزلیه نظم د شاعرۍ دا ټولې نمونې د پښتو شاعرۍ هغه نمونې دي. چې د فن ، هئیت او موادو په لحاظ د پټې خزانې د بیان کړیو نورو شاعرانو د شاعرۍ نه ښکاره فرق لري. او د پښتو د ادبي تاریخ یو غیر جانبدار او زیرک نقاد په دې مجبوروي چې دا شاعرې د موجوده زمانې د ادبي معیار په تول پوره وګڼي. که چرې مونږ دغه زیر بحث معیاري شاعري د پټې خزانې د مؤلف په قول د هغه دور شاعري وګڼو د کوم سره ئې چې محمد هوتک منسوبوي نو بیا به دا حقیقت خوا مخوا تسلیموو چې پښتو شاعرۍ د ارتقاء د مسلمو اصولو مطابق هېڅ ترقي نۀ ده کړې بلکې د وخت د تېریدو سره د ارتقاء په ځائے د تنزل سره مخ شوې ده. ځکه چې د ځنو هغه شاعرانو شاعري چې د امیر کروړ ، اسعد سوري او ښکارندوي وغیره نه څو صدۍ وروستو دورسره تعلق لري. په تکنیکي لحاظ دومره معیاري نۀ ده. لکه چې د دغو شاعرانو شاعري ده. چې پټې خزانې ئې ذکر کړے دے." ۳
د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کښې چې د پټې خزانې په حواله د وړومبي دور د منظوم اثارو کوم څېړنیز جاج په ګوته کړې شوې دے. د دغه وړومبي دور د څېړنیز بحث په نتیجه کښې د دغې دور د ادبي اثارو د خپلو ادبي خصوصیاتو او مسلمه قواعدو او اصولو په بناء په خپل مخصوص فني چاپیرچل کښې د ژبې د ارتقائي مندرجاتو له مخه هېڅ تقلیدي او تخلیقي رجحانات نۀ لري. البته د ادب په تاریخ کښې خپل ځانګړے مخصوص رنګ او نمونې لري. چې د پټې خزانې له رویه د ړومبي دور د شاعرانو منظومې نمونې دي.
د پښتو ادب د دوئم دور نمائندګي د بایزید انصاري رح د ادبي مکتب نه کېږي چې د روښاني مکتب په نامه خپله ادبي پیژنګلو لري. د بایزید انصاري المعروف پیر روښان او د

هغهٔ د مکتب هغه مریدان او شاګردان چې د دهٔ د سلوک او معرفت پیرو کاران تېر شوي دي ، د خپل مرشد د مذهبي او علمي تعلیماتو د اشاعت او ترویج دپاره ئې په پښتو ژبه کښې ډېر منظوم او منثوراثار تخلیق کړي دي۔ چې په لساني توګه ئې د پښتو ژبې دپاره د نوي نوي اصطلاحاتو ، محاوراتو ، او د رسم الخط[2] اجراء هم کړې ده۔ چې د روښاني ادب د پښتو ژبې د لسانې معیار دپاره یو مثبت نقطه اغاز وهٔ۔

په دې حقله ډاکټر راج ولي شاه خټک لیکي ،

" په ادبي تحریکونو کښې د روښاني تحریک اګرچه په پښتو اوشو نو د ژبې او ادب یو ځلاند سحر راښکاره شو۔ په دې سحر کښې چې مونږ کومه ادبي رڼا وینو هغه د روښاني تحریک د مشال رڼا ده۔ چې د پښتو د ادب مزکه ئې منوره کړه۔ ارزاني۔ مرزا خان انصاري ،مخلص ، دولت ،واصل ، کریم داد ، قادر داد او نور روښاني شاعران ددې سحر د کاروان ورومبني غړي دي۔ د چا د فکر و فن پلوشے چې د پښتنو په ځهره پریوتے۔ نو یو روښان پښتون مخ ئې ښکاره کړو۔ چې د دوي نه علاوه د دغه عصر ځنې نورو جدا تحریکونو یا د تحریک غړو پکښې د ښکلا دپاره رنګارنګ خالونه کیښودل۔ ددې خالونو کیښونکیو مشر د دغه عصر بل پښتون ادیب دے۔ چې ددې روښان پښتون ادیب مخ دپاره د روښاني تحریک د ټولو نه غټ رقیب دے۔ او دغه غټ رقیب اخون درویزه هم د پښتو په باب له څهٔ کم عاشق نهٔ دے۔ ولې د مینے انداز ئې جدا دے۔ دا دواړه کسان چې په خپلو کښې نښتي دي نو فائده ئې د پښتو ادب ته رسیدلي ده۔ که چرے روښانیان په پښتو نهٔ وے مئین شوے او اخون درویزه ورسره د رقابت مظاهره نهٔ وے کړے نو پښتو ادب به دومره ترقي نهٔ وے کړے۔" ۴

---

[2] د خیرالبیان پهٔ مقدمه کښې حبیب الله رفیع د دولت لواني د لاندیني شعر پهٔ حواله د بایزید د مخصوٓص پښتو تورو شمیره دیارلس ښودلې دي۔ چې د ځانګړیو غږونو د ادائیګۍ دپاره ئې ټاکلي وو۔

□ افغاني لفظ مشکل ؤ، لوست کوېنښ نهٔ شهٔ ورته وشو کننده دیارلس حرفونه۔ (خیرالبیان ، پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ بنو ، مخ ۲۷ )

بي بي مريم د پښتو د نثر د ړومبي او دوئيم دور د نثري خصوصياتو په حقله ليکي ؛

"لکه څنګه چې ښکاره ده. د پښتو نثر د ړومبي او دويم دور خصوصيات نزدې يو شان دي. او د دواړو دورونو د ليکوالو په ليکونو کښې ډېر زيات يو والے دے فروعي کمے زياتے په کښې ضرور شته. خو د ليک عمومي انداز ئے يو رنګ دے. د دويم دور د ليکوالو په ليک کښې چې کوم اجتماعي خصوصيات دي. په دې کښې مخزن هم شامل دے. ۵

پوهاند عبدالحئ حبيبي د دويم دور د منثور اثارو د فني پيچيدګيانو په حقله ليکي ؛

"تر ( ۹۰۰ هـ ) وروسته چې کوم منثور اثار زمونږ لاس ته راغلي دي ، د سليمان ماکو له نثره سره ډېر تفاوت لري او داسې څني څرګندېږي ، چې د پښتو پخوانے نثر ، ساده ، بسيط ، واضح ، خوږ او څرګند ؤ ؛ مګر وروستو چې د هند او ايران فني نثرونه خلکو وليدل ؛ نو په پښتو کښې هم يو راز دروند او اوږد او مکروه نثر شروع شو. چې اسجاع او مترادفات او اوږدې جملې يې درلودي او هغه پخواني وضاحت او سادګي او حلاوت يې بايلو.

دا فني نثر، چې د ژبې د بيان ډول يې بل راز کړ ، د ژبې لپاره اساسا مفيد نهٔ ؤ. مګر ډېر منثور اثار او کتب يې په پښتو کښې موجود کړل له دې جهته نو غنيمت هم دي او مونږ د دې ( ادبي مکتب ) استادانو او شاګردانو ته په ښهٔ سترګه ګورو ؛ ځکه که دوي څهٔ نهٔ وې ليکلې ؛ نو به اوس مونږ د پښتو له ډېرو تاريخي او ديني اثارو څخه محروم وو. د (فني نثر ) پېچيدګي او اغلاق او عدم وضاحت په پښتو نثر داسې اثر کړې دې. چې قطعا له مخکښې نثره سر نهٔ شي طتبيق کيدائي ، پخواني نثر ساده او روان او د ژبې له محاورې سره سم ؤ ؛ مګر فني نثر مغلق شو ، جملې يې اوږدې شوې او د جملو په اخر کښې د سجع التزام وشو او له ليکوالو سره دا فکر ؤ ، چې نثرد نظم خوا ته نزدې کړي. بلکې اکثرو ليکوالو خپل نثرونه ، نظم هم وبلل ، اخوند درويزه ليکي ؛

چې روښان په پښتو ژبه شعرونه جوړ کړل او ما هم د دهٔ په جواب کښې د مخزن الاسلام شعرونه ويل حال دا چې نه خيرالبيان شعر دے او نه مخزن ؛ بلکې د دواړه کتابونه يو راز مسجع او مغلق نثر دے." ۶

پروفېسر ډاکټر یارمحمد مغموم خټک د بایزید د نثري لیک د لساني طرز تحریر په حقله لیکي ؛

" د بایزید نثر په ادبي لحاظ دومره غوره نثر نهٔ دے۔ د هغهٔ د لیک انداز مصنوعي معلومېږي۔ د هغهٔ مسجع او مقفی نثر په ځنو ځایونو کښې د جملو فطري ساخت ته زیان رسولې دے او ځکه لوستونکي د دیو نه د مفهوم اخستو په وخت د مشکلاتو سره مخ کېږي۔ لکین چونکې د پښتو د ادب د معلوم تاریخ تر مخه دا د خپل نوعیت ړومبی تجربه وه په دې وجه د پښتو نثري لیک په لړ کښې سره د ځنو خامیو پیر روښان ته د اولیت فخر حاصل دے ۔ " ۷

د بایزید انصاري د نثري لیک په تقلیدي رجحان کښې ړومبی نمونه د اخون درویزه بابا د نثري لیک د مخزن الاسلام د هغه کتاب ده۔ کوم چې اخون درویزه بابا د پیر روښان رح په مخالفت کښې لیکلے وهٔ۔ دا کتاب هم په لساني توګه د نورو کتابونو مجموعه ده۔ او د خیر البیان په شان ئې د لیک او بیان انداز د سجع د لیک التزام او اهنګ لري۔ د اخون درویزه بابا د نثر نګارۍ په حقله هم ډېرو څېړنکارانو د خپلو تحقیقي خیالاتو او تاثراتو اظهار کړې دے۔ لکه د مخزن الاسلام مقدمه نګار تقویم الحق کاکا خیل د دې کتاب په حقله لیکي ؛

" عبدالکریم کریم داد بابا رح د اخوند صاحب رح مشر ځوئے وهٔ۔ او د هغهٔ ټول کتابونه ئې مرتب کړي۔ او خوارهٔ کړي دي۔ لوئے عالم ، محقق ، صوفي او شاعر وهٔ۔ د فارسی خطونو مجموعه او د یو څو عربي کتابونو شرحې ئې مونتے شي۔ د پښتو په تصنیفاتو کښې ئې دغه د مخزن حصه محفوظه پاتې ده۔ د تحفته الځاني ، او فقه کریم داد نومونه رارسیدلي – او ځائے په ځائے ذکر شته۔ کریم داد بابا رح د کال ۱۰۷۲ ھ

(۱۶۶۱ء) خواؤ شا وفات شوے دے۔ او په کانجو (ریاست سوات) کښې ئې مزار دے۔ کریم داد بابا رح د وخت د تقاضو مطابق په مخزن الاسلام کښې د نمانځه سبق د عقائدو څهٔ ټوټې ، د دوو ایاتونو تفسیر د "امنت بالله" ترجمه د جنازې نمونځ او څهٔ فقهي مسائل ور زیات کړي دي۔ دا

اضافې ځنې د اخوند درویزه بابا رح غندې په نثر مسجع کښې دي او د هغهٔ په سبک کښې لیکلي شوي دي او ځینې وړې وړې مسلسلې قطعې یا دوه بیتیزه دي۔"۸

پروفیسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک د پیر روښان د عقیدت مندو د شاعرۍ د فن او مقصد په حقله د خپلو خیالاتو اظهار څهٔ دا رنګ کړې دے۔

" د بایزید روښان ټول پېروکاران لوستي ، پوهه او عالمان کسان وو ۔ د هغوي نثري او شعري فن پارې چې په زیرک نظر ولوستے شي نو داسې محسوسیږي لکه چې د لفظونو په پس منظر کښې د معنو یو سمندر پروت دے۔ د هغوي شاعري تشه شاعري نهٔ ده۔ بلکې هغوي د یو منظمې صوفیانه فلسفې د ابلاغ دپاره د شاعرۍ په ذریعه یو لوئے مقصد حاصلول غوښتل دغه لوئے مقصد د هغوي د عقیدې تر مخه د شعر د فني ښائست نه زیات اهم وهٔ۔ او ځکه د هغوي د ځنو شعرونو نه علاوه د هغوي په اکثره شاعرۍ کښې فني حسن او د مضامینو تنوع په نظر نهٔ راځي۔" ۹

ډاکټر راج ولي شاه خټک د دوینم دورد ادبي تحریک او د نوي مکتب فکري رجحاناتو په حقله لیکي ؛

" د پښتو ادب په دې سباؤون کښې د ادبي تحریک دوه رنګه ښکاري یو خو د پښتو په لور د ټولو روښاني شعراؤ رجحان دے۔ بل یو خالص ادبي تحریک د یو نوي مکتب فکر چې باني ئې بایزید انصاري وو۔ هغه خپلو مریدانو ته د تصوف او د وحدت الوجود د فلسفې یو نوے علم ورکړو۔ ورسره ئې د سلوک په دغه لار کښې د نفس د تکامل دپاره ځنے داسې مشقونه ور اوښودل۔ د کوم په ذریعه چې د ذات پیژندنه کیدے شي۔ د بایزید نه پس د احدیت او وحدت د دغه تجربو بیان د دې مکتب فکر واضح انداز دے۔ د دے تجربو بیان په پښتو ادب کښې د دغه دور د خاص مکتب فکر د فروغ تحریک دے۔ په دے تحریک کښې هر روښانی شاعر د کمال تر حده د خپلو مشاهداتو او تجرباتو بیان کړې دے۔ ورسره ورسره ئې د خیر البیان په څلورو مقاماتو او څلورو څیزونو هم د پوهولو دپاره

تبصرې کړې دي. په دې تحریک کښې یو داسې همه ګیر یکسانیت دے. چې د هر روښاني شاعر که وړاندې دے که ورستو د وحدت الوجود د مشاهداتو بیان یو رنګه وي. تر دې چې ځینې مصرعې ئې د ارزانې نه واخله تر کریم داده پورې ټولو شاعرانو راخستې دي. د ټولو افکارو خیالات په یو وحدت کښې چورلي. د ګمان دوئ او ځینې نور. اصطلاحات ټولو یو رنګ استعمال کړې دي." ۱۰

د پوهانو د مخلوط اراء اقتباساتو په تناظرکښې د روښاني دور د شاعرانو او د لیکوالانو په مجموعي تاثراتو کښې دومره وئیلوشو چې د روښاني ادب د شاعرانو په لیک او بیان کښې د ادبي اصطلاحاتو نه زیات مزهبي او متصوفانه اصطلاحات د فني باریکۍ نه سېوا د فکرۍ باریکۍ په صورت کښې شاملې دي. د روښاني تصوف د علم پنګه که د مشاهداتو او تجرباتو په بنیاد که هر څو نوے معلومیدۀ. خو په فکري او مقصدي توګه د وحد ته الوجود او د وحدته الشہود دغه نظریات د اسلامي فلسفې زوړ بنیاد دے. کوم چې د روښاني ادب په معاصرو شاعرانو او لیکوالانو په لیک کښې په ښکاره ډول په نظر راځي هم دغه وجه ده چې د روښاني ادب د لیکوالانو او شاعرانو په لیک کښې د عربۍ او د فارسۍ د کلماتو یو بهیر موجود دے. د روښاني ادب یوه لساني ارزښتیا دا هم ده چې د دې دور د شاعرانو او لیکوالانو د لیک انداز یو رنګ په یو موضوع او د یو مقصد لاندې لیکلې شوې موضوع ده چې خالص مزهبي رنګ لري. د پښتو د ژبې د لساني احساس دپاره د دوي په شاعرۍ کښې د ادبي او فني ترکیبونو نه زیات د ژبې ثقافتي احساس ته ډیره اړتیا لري. او د پښتو ژبې د لساني ساخت او ترکیب دپاره هیڅ شعوري احساسات نۀ څرګندوي.

خوشحال خان خټک د دور ( ۱۱۰۰ ھ - ۱۰۲۲ ھ) نه وړاندې چې د روښاني ادب شاعرانو او لیکوالانو په پښتو ژبه کښې کوم منظوم یا منثور ادب تخلیق کړے دے دغې ادب د پښتو د ژبې او ادب دپاره په تخلیقي حواله د تنقیدي رجحان یوه نوے لار پرانیستې ده. چې په وړومبي ځل په شعوري توګه خوشحال بابا په دغه لار تګ کړې دے. په ادب کښې چې کله هم نوے ادب تخلیق شوې دے نو په شعوري توګه ئې د ځان سره تنقیدي ادب هم تخلیق کړے دے. د ادب د لساني ، ادبي او د علمي رجحاناتو او

ایجاداتو په پس منظر کښې دتنقیدي رویو ضرورت خامخامحسوسیږي.
د روښاني ادب د دور د تصنیفاتو او تالیفاتو په باب له د خوشحال خا ن خټک د تنقیدي رویې اظهار جزجاتي نهٔ ښکاري بلکې د دهٔ د لساني تنقید نه د دهٔ د تنقیدي مزاج په سخن فهمۍ او د لساني او علمي سطحې د تعین سره سره د پښتو د ژبې د لساني ادراکاتو ، قواعدو ، او مسلمه اصولو د لساني شعور د احساساتو د څرګندونې احاطه هم کوي۔ چې په پښتو ادب کښې په تاریخي حواله د لساني تحقیق او د پلټنې مثالي اغاز دے۔
خوشحال خان خټک په خپل کلام کښې چې د روښاني ادب د په اثارو چې کومې تنقیدي کرښې راښکلي دي هغه شاعرانه تنقید د پښتو د لساني شعور یو غوره او تعمیري اغاز وهٔ چې مقصد ئې د پښتو په ژبه کښې یو معیاري ادب ته معیاري مقام وربخښل وو۔

خوشحال خان خټک په روښاني ادب کښې د دواړو ډلو د ادبي مخالفت غټه او بنیادي وجه دا وه چې د هغې دور په شعر او ادب کښې تخلیقي رجحان نه زیات تقلیدي رجحان زیات تخلیق شوے وو۔ او ژبه ئې د خپلو مخصوصو افکارو ، عقائدو او ذاتي خیالاتو دپاره استعمال کړې وه۔
په دې حقله پروفیسر نواز طائر لیکي۔
" د خیرالبیان او مخزن دواړو په مسلکونو د مذکوره بحث و تمحیص او د خوشحال بابا ددې تنقیدي تجزیئې نه پس لوستونکي په خپله هغه نتائج اخذ کولے شي کوم چې د پښتو ادب په میدان کښې دې پر اشوب دور نه رازبږېدلي دي۔ خو هغه څو اهمے نکتے چې د ادبیاتو د تاریخ مطالعه کوُنکو شائیقینو له څو فکریه لمحه راپېدا کوي هغه دا دي چې

تردے وخته تقلیدي ادب په شعر او نثر دواړو کښې هغه مقام ته ورسیدو چې د دغے نه پس د شعر و ادب په مستعارو اصنافو کښې تخلیقي رجحان راولاړ شو۔

ب – عقائدو او تصوف په پښتو شاعرئ دومره غلبه اومونده چې فطري جزبات او افکار ئې د دغے وخت د ادب نه بهر کړل۔"۱۱

د خوشحال خان خټک په روښاني ادب تنقید د نفسیاتي رویې نه برعکس د یو لساني معلم په توګه د ادبي او لساني شعور نتیجه وه۔ او د یو باشعوره لساني ماهر په صورت کښې ئې

د فارسۍ او د عربۍ د صرف او نحو په ځاے ئې د پښتو دژبې د ليک انداز ئې د پښتو د لفظ او د معاني د قواعدو د تدوين د يو لساني شعور احساسات بيدار کړل.
خوشحال خان خټک چې کله نه د پښتو او د فارسۍ د ژبو ادراک کړې دے.نو د دواړو ژبو په لساني ساخت کښې ورته ښکاره فرق په نظر راغے.او په وړومبے ځل ئې د ساختياتي سطحې د عروج دپاره د پښتو ژبې په خاميانو ګوتې پورې کړې.او د پښتو د ژبې په لساني اړخ ئې شعوري رجحان نور هم سېوا شو.
د پښتو د لساني ساخت د پيچيدګۍ په حقله د خپل لساني شعور احساس څۀ دا رنګ ظاهروي.
لکه چې وائي ،

زۀ خوشحال پښتون چې په پښتو په فارسۍ طاق يم
لا مې په پښتو ژبه کښې ژبه درغلېږي.۱۲

د خوشحال خان خټک دور چې د پښتو د ادب کلاسيکي دور دے په دې دور کښې د کلاسيکي نقادانو ترفهمه شعري او ادبي تخليق د تکميل او د بامعني اظهار د انحصار دپاره د صرفي او نحوي تقاضې او پابندۍ مهمه ګڼې کېدلې او دا تجرباتي عمل به ئې د تورو د قوت او د نشست او برخاست د اصولو لاندې په عمل کښې راوستل.
صرف او نحو(ګرائمر) هغه علم دے چې د اصولي ادب يوه مهمه څانګه ګڼې کېږي.د "صرف" تورے د يوې ژبې د توريو په صيغو تکرار کوي او "نحو" د ژبې په معنويت بحث او تمحيص کوي.د شعري لسانياتو دپاره د لفظ او د معاني ادراک د شعر د هيت او ماهيت دپاره ضروري دي.د لفظ او د معاني د شعري لساني ادراک په حقله د اردو ژبې ليکوال انيس ناګي ليکي ،

*"عمومی ادراک غیر تخلیقی ہوتا ہے۔اس میں اظہار کے پیرائے کی کل کائنات میں چند مروجہ لہجے ہوتے ہیں جن کی متواتر تکرار سے مافی الضمیر ادا کیا جاتا ہے۔اس کے برعکس تخلیقی لسانی ادراک تجربات کی دریافت اور تشکیل ہوتی ہے۔فن کار تخلیقی عمل کی بدولت زبان میں معانی کی تصوراتی اور حسیاتی سطحیں تخلیق کر کے انہیں معنویت کے وسیع تر عمل میں منتقل کر دیتا ہے۔بالالفاظ دیگر عمومی لسانی ادراک اشاروں کی بدولت کیا جاتا ہے اور تخلیقی لسانی ادراک انہی اشاروں کو استعاروں میں منتقل کرنے سے جنم لیتا ہے۔*

اس تفصیل کا اجمال یہ ہے کہ تجربات اور اشیا کا لسانی ادراک ان کا وقوف ہے۔ زبان حقیقت کا ایسا استعاراتی قالب ہے۔ جو انسان کے مجرد تجربات اور واردات کو منظم کر کے ٹھوس جسمانیت سے ہمکنار کرتا ہے۔ زبان میں صرفی اور نحوی اصولوں کی کارفرمائی اس امر پر دلالت کرتی ہے کہ انسان اپنے خیالات اور جزبات کو منظم کرنے پر قدرت رکھتا ہے۔

زبان کا بامعنی استعمال زندگی میں تنظیم اور ترتیب کا مظہر ہے۔ زبان بیک وقت ایک انفرادی اور معاشرتی عمل ہے ذہن انسانی الفاظ کی صورت حقیقت کا ادراک کرتا ہے۔ الفاظ اسے انسانی تجربات اور واردات کی دنیا سے روشناس کراتے ہیں اگر ذہن کو الفاظ سے محروم کر دیا جائے۔

تو اس کا ملجا وماویٰ چند مبہم وردات سے زیادہ نہ ہوگا۔ چنانچہ ایک فرد کے لیے الفاظ خبر اور وقوف کا درجہ رکھتے ہیں اور جب وہ خبر اور وقوف سے حاصل شدہ مواد کی صرف و نحو کے ذریعے ضابطہ بندی کرتا ہے، تو وہ اپنی جذباتی اور تجرباتی کائنات کو معروضی دنیا میں لے جاتا ہے۔ جہاں اس کا لفظ افہام کی دعوت ہوتا ہے۔ الفاظ کا معروضی انتقال اسے افہام کی معاشرتی سطح سے پیوست کر دیتا ہے۔ چنانچہ ایک معاشرے میں جب یہ عمل وسیع تر صورت اختیار کرتا ہے۔ تو انتقال معانی کی صورت جنم لیتی ہے۔" ۱۳

خوشحال خان هم د لساني شعور د احساس لاندې په پښتو ژبه او ادب کښې د شعري لسانياتو د قواعدو او د اصولو دپاره ځنې عمومي او تخليقي لساني ادراکات تشکيل کړل او د ژبې دپاره ئې د لفظ او د معاني د علتي رشتې په وجود او تخليقي اهميت زور راوړو. د خپل شعر د لفظ او د معاني د خوبيانو ذکر په جار کوي.

" افـــرين دې پـــه وئيلـــو شـــه خوشـــحاله
چـــې د تـــورو رژول کـــړې پـــه قلـــم کښـــې" ۱۴

د شعر د ساخت دپاره د معاني د اهميت احساس څۀ دا رنګ ورکوي .

"چـــې معنـــې ورســـره نـــۀ وي وئيـــل ســـپور وي
خـــدا ے بـــه نـــۀ کـــا د خوشـــحال خبـــره ســـپوره." ۱۵

يا دا چې ؛

"دا رنګينـــــې معنـــــې چيـــــرې دي خوشـــــحاله
چـــې رادرومـــي لکـــه ګـــل پـــه بيـــاض ســـتا ."۱۶

يا دا چې

په تور کسوه کښې پټه رنګینه معنئ وګوره
زر شویو مې سرۀ زر له تورو شګو دي ایستلي-"۱۷

خوشحال خان خټک د پښتو د شعر په لساني شعریاتو چې کومه وسیع تجربه کړې وه د هغې د منطقي ادراک دپاره ده د پښتو شعر په هر فني او علمي زوایې نظر ساتلے دے او د شعر د اعلئ معیار دپاره ئې تر شپیتو کالو تر عمره ښۀ ژوره مطالعه او تجربه کړې وه. لکه چې وائي ،

"په شل کاله کښې دیګ زما د شعر په اور بار شۀ
په دا دور مې پوخ کړۀ چې شپیتۀ کاله مې تللي-" ۱۸

خوشحال خان خټک دښۀ شعر د تخلیق دپاره د لفظ او د مضمون دلتهون او د انتخاب دغه تجرباتي عمل د شاعر یوه فطري تقاضه ګڼي ،او دا د یو شاعر د مغز سوزي او دلسوزي علامت هم ګڼي-

"پټ په پټ وبله اوري تر سباحه
د ښۀ لفظ د ښۀ مضمون په اتصال-"۱۹

خوشحال خان خټک د خپلې شاعرۍ د ابتدا ۲ نه په پښتو ژبه کښې د شعر او ادب په باب له ډېر ژور احساسات او جزبات لرل او د پښتو ژبې دپاره ئې یو مشترکه ادبي او قامي رجحان او ترجیحات برقرار اوساتل. د پښتو ژبې د جائز ورا ثت دپاره ئې د لساني عصمت د حفاظت فریضه هم تر سره کړه او د نورو ژبو د لساني اختراعاتو او تجرباتو د احترام سره سره د خپلې ژبې په اختراعاتو ، قواعدو او اصولو ئې هم کار پېل کړو. د شاعرۍ په لړ کښې ئې د شعر په فني او تکنیکي اړخونو هم تجربات کړي دي. د پښتو د شعر دپاره ئې د مختلف بحرونو (سیلابونو) په شعري لسانیاتو ئې هم تجربات اوکړل. لکه چې وائي ،

"پښتو ژبه مشکله ددې بحر موندۀ نۀ شي
هم ما لره یو څو بحره په ډېر منښود راغلي-" ۲۰

خوشحال خان خټک د لساني شعور او ادراک دپاره د روښاني ادب د دواړو ډلو په شاعرۍ کښې چې کومې نیمګړتیاوې محسوسولے د هغې علمي او فني تجزیه ئې دعروضي علم په تناظر کښې وړاندې کړې ده.علم عروض هم د اصولي ادب یوه څانګه ده چې د یو شاعر د

شعر د وزن ، بحر، او د تقطیع د ناپ تول دپاره استعمالږي.

پروفیسر فضل میر خټک د علم عروض او د پښتو د عروضو په حقله لیکي ،

عروض: (prosody) (ع ، مونث) عروض ، عرضه کولو ، یعني وړاندې کولو ته وائي.د وزن ، بحر او د تقطیع فن ته علم عروض وئیلے شي.ځکه چې ددې علم اجزا ۲ او افاعیل هغه قواعدو ته د کتو دپاره وړاندې کولے شي ،کوم چې خلیل ابن احمد فراهیدي ( متوفي ۱۷۴ هـ) جوړ کړي وو ، دا قاعدې او اصول او د دوي زده کړه هم په علم عروض کښې شمارلے شي .ډاکټر سید عبدالله ورته د شعر د ناپ کولو علم وئیلے دے.دلته دا خبره د یادولو وړ ده چې پښتو شاعري په دغه عروضو نۀ شي ناپ کېدے، کوم چې خلیل ایجاد کړي دي.ځکه ئې ځوک پابندي نۀ کوي او خیال ئې نۀ ساتي.پښتو شاعرانو کښې مرزا خان انصاري په دغه تول پوره لیکل کړي دي.مونږ ئې ځکه منو چې خوشحال بابا د دۀ وینا په تول پوره ګڼي.د خوشحال بابا اشعار سنجول غواړي چې دا په دې تول پوره دي او که نه." ۲۱

خوشحال خان خټک د روښانیانو د دور په شعري لسانیاتو ډېر ژور نظر ساتلے دے.او د هغې دور په ادبي تخلیقاتو ئې هم د خپل فکر او نظرنیلے زغلولے دے.د ځینو شاعرانو او لیکوالانو د فن په تخلیقي معیار ئې خپل تنقیدي نکات هم په منظوم شکل کښې وړاندې کړي دي.په دې شاعرانو او لیکوالانو کښې وړومبې نوم د اخون درویزه بابا دے.

په روښاني ادب کښې اخون درویزه بابا هغه شاعر او لیکوال دے چا چې د بایزید انصاري د کتاب خیرالبیان په مقابله کښې مخزن الاسلام کتاب تالیف کړو.

د مخزن السلام د تالیف په حقله د جدید دور ځینو پوهانو ددې کتاب په فني او فکري معیار او ادبي مقام د خپلو خپلو تنقیدي زوایو نه د تنقید اظهار کړے دے.

په دې پوهانو کښې د تقویم الحق کاکاخېل تنقیدي اظهار یو مدلل حېثیت لري ،

> " مخزن الاسلام یو کتاب نۀ دے د ګڼو کتابونو مجموعه ده.او په دې غرض لیکلے شوے دے.چې پښانه د اسلامي علمونو او پخو عالمانو سره اشنا کړي په دې مقصد اخوند درویزه بابا رح د خپلې زمانې مختصر او مشهور کتابونه ، څۀ ټول او څۀ ټکړې ټکړې ، پښتو ته راجمع کړي دي.څۀ مناسبې اضافې ئې ورسره کړي دي او مخزن الاسلام نوم ئې ورته اېښے دے.په دې مجموعه کښې څلور مکمل کتابونه دي

۲۲۔

د مخزن الاسلام په حقله هم دغه څېړنکار مخکښې لیکي ،

" په مخزن السلام کښې د اخوند درویزه بابا رح خپل "کلام " الف نامه ده دا الف نامه په نظم کښې لیکلې شوي ده۔ د هر حرف قطعه د بل نه جدا ده۔ داسې ښکاري چې په بیت کښې د یو شطر کمے زیاتے په هغه زمانه کښې عېب نهٔ شو ګڼلے۔ که دا عیب ترې وباسو نو د الف نامې اشعار د ښو ښو اشعارو سره څنګ په څنګ کېښوے شي۔" ۲۳

خوشحال خان خټک د اخون درویزه بابا نثري کتاب ( مخزن السلام) ته په فني او هئیتي اعتبارسره د نثري کتاب نه زیات د منظوم اثر په توګه کتلي دي۔ او د خپل ناقدانه بصیرت په بنیاد ئې ددې کتاب په فني او فکري اړخونو مدلل بحث هم کړے دے۔ د اخون درویزه بابا په علمي استعداد او په فني او فکري عظمتونو ئې ښهٔ په واضحه ډول ټکونه هم کړي دي۔ اود یو څېړنکار په توګه ئې خپل تنقیدي رائې په منظوم هئیت کښې وړاندې کړې ده۔ لکه وائي ،

" یـــو کتـــاب دے درویـــزه ســـره جـــوړ کـــړے
د ســـوات خلـــق ئـــې لـــه کـــل علمـــه دےمـــوړ کړے
نـــا معقـــول مجهـــول بیـــان پکښـــې بـــې ځایـــه
پکښـــې بـــد د ســـید وایـــه یزیـــد ســـتایه
چـــا بـــه وې دا چـــې اخـــون د مـــونږ امـــام دے
درســـت مخـــزن پـــرې نـــازل شـــوے پـــه الهـــام دے
پـــه مخـــزن بانـــدې چـــې وائـــي کـــافر دے
د کـــــافر قتـــــل پـــــه شـــــرع معتبـــــر دے
درویـــزه چـــې بیـــان کـــړے خپـــل کتـــاب دے
نـــوم ئـــې مخـــزن الاســـرار کـــړے جنـــاب دے
پـــر بیـــان ئـــې نـــا مـــوزون مجهـــول بـــې رنګـــه
خـــالي پـــاتو لـــه دانشـــه لـــه فرهنګـــه
کـــه یـــوه مصـــرعه پـــه شـــل بلـــه پـــه ســـل ده

نـــا مربوطـــه نـــا موزونـــه پـــه وئيـــل ده
قافيـــــه ئـــې لام و دال ســـــره وهلـــــې
پـــه رديـــف کښـــې ئـــې نـــون واو ســـره پئيلـــې
قصـــــيده د بوصـــــيري ترجمـــــه کـــــړې
عربـــــي ئـــې تـــر پښـــتو مضـــحک راوړې
هـــر هـــر بيـــت د قصـــيدې چـــې در مرجـــان دي
پـــه پښـــتو کښـــې تـــر اوربشـــو لـــه ارزان دي
معمـــــا د ازاري ترجمـــــه کـــــړې
تصـــوف ئـــې و عـــالم وتـــه نـــو مړې
ترجمـــه د شـــاه ناصـــر يـــو ځـــو اشـــکاله
و عـــالم تـــه جـــوړه کـــړې لـــه مقالـــه ."۲۴

د خوشحال خان خټک د تنقيدي رائې نه دا اندازه لګي چې د مخزن الاسلام د کلام په مطالعه کښې دۀ د شعري لسانياتو ټولې قاعدې او تقاضې په نظر کښې ساتلې وې او ددې کتاب په هر هر بيت ئې د خپل تنقيدي ادراکاتو محاکمه وړاندې کړې ده. او هغه ټولې کمزورۍ ئې مخې له راوړې دي کومې چې دۀ ددې کتاب په ترجمه نګارۍاو علمي او فني اړخونو کښې محسوس کړې وې.

محترم تقويم الحق کاکاخېل په خپلې مقالې کښې ليکلي دي چې خوشحال خان خټک د اخون درويزه بابا کتاب نۀ نظم ګڼي او نۀ نثر.په دې حقله دے ليکي ،

" خوشحال خان خټک د اخوند درويزه بابا ډېر قائل نه دے. نۀ د هغه د علم او نۀ د هغۀ د ادب. علمي بحثونه خو خېر ځانته شے دے ، ادبي طور د هغۀ دا خبره صحيح ده چې د اخوند درويزه رح کلام نۀ نظم دے نۀ نثر."
۲۵

د محترم تقويم الحق کاکاخېل د ښېرني دا دعوئ برحق ده چې د خوشحال په تنقيدي رائې کښې د اخون درويزه په کتاب کښې د علم او د ادب ډېر زيات کمے محسوس کړې دے. او د شعري لسانياتو په پيمانه ئې ډېرې کمزورۍ په ګوته کړې دي. خو د دۀ دا دليل هېڅ ادبي حجت نۀ لري چې خوشحال خان د اخون درويزه کلام ته نۀ نظم وائي او نۀ نثر. که چرې

د خوشحال بابا د هغې شعر دليل را واخلو په کوم شعر کښې چې دۀ په مخزن الاسلام خپله تنقيدي رائې څرګنده کړې ده نو د دۀ ددې تنقيدي مدلل رائې نۀ دا نتيجه په اسانه راوځي چې د خوشحال بابا مقصد د اخون درويزه بابا کتاب مخزن الاسلام غير معياري کول نۀ وو بلکې يو مخصوص ادبي مقام ورکول وو او د دۀ په نظر کښې ددې کتاب ادبي معيار د منثور کلام نه زيات د يو منظوم کلام په شکل و صورت کښې موجود وو، خواه که په دې منظوم کلام کښې هر څومره فني او ادبي کمزورئ موجودې وې لکه خوشحال په خپله وائي چې اخون درويزه بابا چې څومره هم علمي مسئلې بيان کړي دي هغه ټولې مسئلې ئې د پښتو په ژبه کښې د نظم په صورت کښې بيان کړې دي.

مسـئلې ئـې نظـم کـړي پـه پښـتو دي
درتـه څـۀ وايـم چـې څـۀ دي د لوسـتو دي."۲۶

خوشحال خان خټک په شعوري توګه د منظوم او د منثور کلام د امتيازي حيثيت قائل دے د منظوم کلام د لساني معيار دپاره د شعر ټول محور ئې د عروضي اوزانو اډانه ګڼلے دے. خوشحال بابا د شعردپاره عروضي بحر او اوزان ډېر مهم ګڼي په دې حقله وائي،

که شعر تـه نظر کړې پـه خپـل اصـل کښـې بد نۀ دے
بـد دا چـې څـوک پـه شعر کښـې وئيـل کـا ناپسـندلي
چـې چـا دې شـعر کـړے بـې ميزانـه بـې عروضـه
دا هـېڅ شـاعري نۀ ده يـو څـو سـپي دي ټمبيـدلي." ۲۷

د اخون درويزه بابا کتاب(مخزن) د عروضو او د بحرونو نۀ عاري ګڼي. لکه چې وائي،

مخـزن مـې د اخونـد چـې تمـامي پـه نظـر کيښـوت
په دۀ کښې نه عـروض شـته نۀ ئې بحر مـا مونـدلي."۲۸

خوشحال خان خټک د اخون درويزه د کلام نه علاوه د دۀ د ادبي دور د ځينو نورو شاعرانو په کلام هم خپله تنقيدي رائې څرګنده کړې ده. د هغې دور په شاعرانو کښې ورومبے صاحب ديوان شاعر ارزاني خويشکي دے. د چا د فن او فکر په حقله چې د جديد دور پوهانو ډېر څۀ ليکلي دي لکه پرويز مهجور خويشکے ئې د کليات په څېړنه او سمونه کښې ليکي،

"د ارزاني د شعر په فني اړخ د يو لنډ شان بحث نه پس دا اندازه ښه په اسانه لګي چې دۀ په خپله شاعرۍ کښې د لفظي او معنوي ښائست د پېدا کولو له پاره د خپل فنکارانه استعداد نه کار اخېستے دے. علاوه د نورو ډېرو صنفونو ارزاني ډېر کرته خپل شعرونه د زړۀ د باغ چيده ګلونه بللې دي لکه چې وائي :-

ارزانـــــي د دل لـــــه باغــــــه
دا پښـــــتو وېنـــــا وچيــــــده
پـــــه پښـــتو ئـــې ســــره هــــار کـــړۀ
خاصـــه ګـــل لـــه دل لـــه ګيانـــه."۲۹

پروفيسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک ئې شاعري د فن ښکلا ګڼي ،

" د مختلفو ژبو پحقله د علميت لرلو سره سره د هغۀ په شاعرۍ کښې د فني حسن نادرې نمونې موندے شي." ۳۰

د ارزاني خويشکي په کلام کښې د صوفيانه اصطلاحاتو يو ادبي رجحان موجود دے او د خپلې صوفيانه فلسفې د خوروالو او محکم ساتلو دپاره ئې دغه اصطلاحات په پښتو ژبه کښې راوړل ادبي ضرورت ؤ خو ددې صوفيانه اصطلاحاتو زيات شعوري رجحان تقليدي وو او د فارسۍ د صوفيانه ادب د تاثير نتيجه وه.

ډاکټر راج ولي شاه خټک هم دې اړخ ته اشاره کړې ده.

" د ارزاني ادبي شعور د هغۀ په کلام کښې د ځنې هغه اصطلاحاتو نه هم څرګندېږي کوم چې هغۀ د ترجمے په صورت کښې يا د خپله ځانه په پښتو کښې د نومونو دپاره استعمال کړي دي.

شب پرور خبر نۀ دے د اوريښتن له
معاش ." ۳۱

ډاکټر پرويز مهجور خويشکي هم د ارزاني صوفيانه اصطلاحات د فارسۍ د ادب سره هم اهنګ ګڼلي دي.

" ددې نه علاوه د تصوف ډېر اصطلاحات ئې بيان کړي دي. چې پښتو شعري ادب ئې په علمي توګه د فارسۍ ادب سره هم اهنګ کړے دے." ۳۲

د ارزاني د فن د مسئلې په حقله ډاکټر پرويز مهجور وړاندې ليکي ،

" تر کومه چې د ارزاني په شاعرۍ کښې د تشبيهګانو ، استعاراتو ، معنوي او لفظي صنعتونو خبره ده ـ نو ارزاني په شعوري توګه ددې فني ضرورتونو اهتمام کړے دے ـ د ارزاني شاعري چونکې د مذهب او تصوف د يو علمي او فکري ډلې سره تعلق لري نو په دې وجه د هغۀ د تشبيهاتو او کنايو پس منظر هم دغه علمي او فکري شناخت لري ـ" ۳۳

سر محقق زلمے هېواد مل ئې د شاعري کلام منظوم ګڼي خو د فن په تول پوره نۀ ګڼي ـ او ددې وجه هم بيانوي ،

" د هنر او فن په لحاظ د ارزاني شاعري هومره خوند او رنګ نه لري ، بلکه سپينې خبرې يې په نظم کښې رانغښتې دي ، ښائي ځينې ښاغلي دا استدلال وکړي چې که چيرې يو خاص فکري مسلک په نظم کښې بايد د استاد حبيبي په قول وويل شي چې همدغسې خاص موضوعات مولانا جلال الدين محمد بلخي (رح) سنائي غزنوي (رح) او نورو متصوفانه او عارفانه هم په نظم کښې بيان کړي دي ـ مګر په يو خاص ادبي قدرت دا اعتراف بايد وکړو چې د ارزاني دغو فرهنګي هڅو ته درناوي تر څنګه دا هم هيرول نه دي پکار ، چې ددۀ ادبي اثار معياري نه دي او نظمونه يې حتئ د قواعدو او د شعر د فني اړخ له پلوه هم کمبوتے لري ـ" ۳۴

د خوشحال خان خټک د کلام د ځينو هغه اشعارو د مطالعې نه ددې خبرې وضاحت هم کېږي چې دې د ارزاني د فن او اسلوب ډېر قائل نۀ دے او بلا واسطه ئې دې د دۀ په کلام تنقيد کړے دے ـ

"د ميـــرزا ديـــوان مـــې ومانـــډۀ پـــه ګـــوډي
مســـخره مـــې ارزانـــي خويشـــکے زمنـــد کـــړ ـ" ۳۵

خوشحال خان د خپل عهد او د ماضي د شاعرانو په شاعرۍ ښۀ ژور نظر لرلو او د ارزاني خويشکي سره سره ئې د ټولو سرېنو شاعرانو نۀ زيات خپل کلام اعلیٰ ګڼلے لکه چې وائي ،

"يو په حال او په ماضي کښې هسې نۀ وۀ
چې ښکاره ئې د خبرو راته خوند کړ ـ" ۳۶

یا دا چې ؛

سل سړښني دې تر د یو غزل ځار ېږه
نن چې دا پښتو ده کرلاښي خوشحال وئیلي ."۳۷

د خوشحال خان خټک په دې شعر کښې د سړبن د هغه شاعرانو تذکره موجوده ده کوم چې د دهٔ د زمانې نه وړاندې وو یا د دهٔ هم عصر وو لکه د پورتني د یو شعر په بنیاد دا خبره هم په ډاګه شوه چې خان بابا د حال او د ماضي د شاعرانو ذکر کوي ،او د خپل عصر نهٔ پس د سړبن په شاعرانو کښې د عبدالرحمان بابا یا د بل یو سړبني شاعر ذکر نهٔ کوي. خو ډاکټر یار محمد مغموم د خوشحال باباد شعر په حواله د سړبنو په شاعرانو کښې د عبدالرحمان بابا اړخ ته اشاره کړې ده چې هېڅ واضحه دلیل نهٔ لري.

د خوشحال بابا د کلیات په مقدمه کښې لیکي ،

" خوشحال بابا د نامعلومو وجوهاتو په بنا د رحمان بابا نوم نهٔ دے اخستے خو په اجتماعي توګه ئې د ټولو شاعرانو په شاعرۍ ټکونه کړي دي. په دغه اجتماع کښې به شاید رحمان بابا هم د خان په نظر کښې وهٔ."
۳۸

د خوشحال بابا د پورتنیو اشعارو په حواله ددې قیاس هېڅ دلیل نیشته چې خوشحال خان د سړبن په شاعرانو کښې د عبدالرحمان بابا اړخ ته اشاره کړې ده. او یا ئې د هغهٔ د شاعرۍ په فني یا علمي اړخونو څهٔ شعوري تنقید ښکاره کړې دے. بلکې د دې برعکس که د ارزاني سړبن خویشکي څمند په شاعرۍ کښې د دهٔ (ارزاني) د شجرې مطالعه اوکړې شي نو د خوشحال بابا د پورتني شعر په حواله د ارزاني سړبن خویشکي څمند په لور اشاره قوي امکان لري.

ډاکټر پرویز مهجور خویشکي د ارزاني سړبن خویشکي څمند د شعرونو په حواله هم د دهٔ د شجرې په حقله لیکي ؛

" دغه رنګ بره ذکر شوو شعرونو کښې دا ټکے (لزیر) چې کله مونږ په صحیح حالت کښې لیکو نو دا سې به لیکو ؛.

 ارزاني په پښتو ژبه دۀ له زړۀ وکيښ دا شعر
 په سړبن کښې دې ځمند دے او په خيشکي کښې له زېر
 دے په خيشکي کښې له زير او په خيشکي کښې له زير۔

په دې بره شعرونو کښې ارزاني په اصل کښې خپله نسبي قبيلوي شجره بيانوي۔ چې ارزاني په سړبن کښې ځمند دے۔ په ځمند کښې خوېشکے دے۔ او په خوېشکے کښې زېر زے دے۔ ځکه چې زېر زے په شجره کښې د خويشکي زوے دے يا وه ځانګه ښودلې شوې ده۔ دغه رنګ دا ټکے نۀ عزيز دے چې چا د ارزاني نوم وګڼلو او نۀ عزير دے چې بعضې ئې د ارزاني نوم ګڼي۔" ۳۹

ډاکټر يار محمد مغموم خټک په خپله هم د ارزاني د پورتني شعرونو په حواله د دۀ د شجرې تائيد هم په دا رنګ کړې دے۔

" په بره شعرونو کښې ارزاني اصل کښې خپله قامي شجره وړاندې کړې ده۔ چې زۀ سړبن يم۔ په سړبن کښې زمند يم۔ په زمند کښې خويشکي يم۔ او بيا په خويشکي کښې له زېر يعني د زېر زو نه يم۔ زېر ځي د خويشکي په قبيله کښې د يو خېل نوم دے۔ موجوده د خوېشکي کلي (تحصيل او ضلع نوښار) کښې هم په کوزه خوېشکي کښې د زېروزو په نوم يوه معززه کورنۍ شته۔" ۴۰

په روښاني شاعرانو کښې د خوشحال په نظر کښې د ميرزا خان د پښتو شاعرۍ د فن نه مطمن ښکاري۔ او شاعري ئې د عروضو په تول تللے ګڼي۔ لکه چې وائي ،

" له چا نه په پښتو کښې ما ميزان ليدلے نۀ دے
ميرزا په دا زبان کښې وئيل کړي دي تللي۔" ۴۱

د خوشحال خان په دور کښې د شعر او شاعرۍ د ليکلو رجحان د نثري ليک نه زيات وو او شاعري ئې هم د خپل مخصوص اسلوب تر مخه د سجع او مقفع د اسلوب زير اثر لاندې ليکلے شوې ده۔ خو بيا هم د دۀ د حال او د ماضي په شاعرانو کښې د شعري اسلوبو يو ادبي ګټه په نظر راځي۔ خو خوشحال خان خټک د شعر او د نثر د هيت او ماهيت د شناخت د وضاحت دپاره د لساني شعور احساس څۀ دا رنګ پېدا کړے دے۔ چې د دۀ د هر تنقيد ورستو د ژبې د ترقۍ او پر مختګ يوه سپېڅلې جذبه پراته ده۔

عبدالظاهر شکيب په خپل کتاب کښې د رحمت الله هوتک چې کوم اقتباس رانقل کړے

دے په هغې کښې ئې د خوشحال خان د روښانیانو سره د موازنې یو جامع خیال وړاندې کړے دے.

" خوشحال بابا چې کله په دې میدان کښې قدم ایښوده ، نو ده ته یوازې د روښانیانو او اخوند درویزه اثار معلوم وو ، خان د هغو په اړه خپل نظریات وړاندې کړل او هغه یې نقد کړل ،خپلې ژبې ته یې د اثارو په ژباړې او تالیف ښکلا او غښتلتیا وروبخښله ، پښتو ژبه ادب او فرهنګ یې په سیمه کښې له سیالانو سره د سیالۍ جوګه کړ."۴۲

د خوشحال خان خټک د لساني شعور لوئې ثبوت دا هم دے چې هغه په پښتو شاعرۍ کښې نوې اجتهاد اوکړو او د پښتو شاعرۍ دپاره ئې د علم بیان ښکلا ، د علم عروض پیمانه ، د صنائع او بدائع باریکۍ ، او د قواعدو یو نوې او ښکلے پر تاثیر ترتیب متعارف کړو چې د پښتو د شعر او ادب دپاره یوه ځانګړې لساني او ادبي لاره ثابته شوه.

ښاغلے محمد نواز خټک د شیدو په دې حقله په خپلې مقاله کښې لیکي ،

" د پښتو شاعرۍ مجدد او د پښتو ادب بادشاه خان خوشحال خان که یو خوا ته د فیاض ازل د طرف نه شاعرۍ بې مثاله ملکه موندلې وه. نو بل خوا ته ئې د تعلیم په ذریعه هغې له پوره پوره جلا ورکړې وه. ددهٔ نه وړومبے په پښتو ژبه کښې ډېرو خلقو شاعري کړې وه. لیکن د نظم دپاره چې کوم قواعد ضوابط مقرر دي. د هغې خیال چا نهٔ وهٔ ساتلے او نهٔ ئې ساتلے شهٔ. د شاعرۍ مثال د یو صبا رفتار اس وهٔ. چې په کومه غاړه به سم شهٔ په هغې به سم شهٔ. خوشحال خان اول سړے دے. چې دے اس ته ئې قبزے واچولے. او د هغهٔ رفتار ئې د بیان ، د بدیع ، د عروضو او قوافي په لار برابر که." ۴۳

ډاکټر یار محمد مغموم د خوشحال خان خټک په کلام کښې د موجود صنعتونو په حٔقله لیکي ،

" د خوشحال بابا کلام د نورو فني او معنوي خوبیو نه علاوه د صنائع او بدائع پریمانه ذخیره لري. دا صنائع او بدائع د دهٔ د کلام په ټولو صنفونو او قسمونو کښې خوارهٔ وارهٔ دي. د خان بابا د خپل نثري کتاب " دستارنامه "

د څلورم هنر (شعر او نظم) د عنوان لاندې د شاعرۍ په حقله ډېرې د کار خبرې کړې دي هغه وائي :- چې جبلي طبیعت د شعر لري. شعر د هغه دے ، فنونه ، صنعتونه ئې په کسب صاصلېږي ـــــ د شعر هم جبلي طبیعت بویه ، هم علم د صنائع ، بدائع بویه ، د شاعرۍ د صنعتونو په حقله وائي چې :- دوه سوه تیر سوه صنعت لري " خان بابا د دیو صنعتونه د استعمال دپاره علم ضروري ګڼي وائي ؛ "د شعر د عیب جاسوسان ډېر دي. ځان به د خندا کا بل دا چې که فقط د شعر صنائع ، بدائع ، د عروض علم زده کا. قوت ئې د نور علم نۀ وي. خطا بۀ ځنې واقع شي. ایمان به بائي کا " ۴۴

خوشحال خان د پښتو د غزل دپاره چې دکومو عروضي بحرونو ذکر کړے دے د هغې تر مخه د پښتو د ښۀ شعر د بندوبست کولو دعوئ دار ښکاري.

بندوبست د پښتو شعر ما پیدا کړ
ګڼه شعر د پښتو وۀ غېر سال[3]

نۀ ئې وزن نۀ تقطیع نۀ ئې عروض وو
دوه مصراع ئې د خفیف بحر دوه طال[4]
د غزل نۀ ئې مطلع نۀ ئې مقطع وه
نۀ صفت نه ئې تشبیهه نۀ ئې مثال
مګر زۀ چې ئې ګویا په شاعرۍ کړم
پښتانۀ ئې پوهول ایزد
تعال." ۴۵

د خوشحال خان خټک د کلام د الهامي او کسبي علم ادراکاتو د کلام فني او معنوي

[3] د خوشحال خان خټک په دې شعر کښې د سال په لفظي معنا که غور اوکړې شي نو ددې نه ئې مطلب هغه اله ده کومه چې د یو ګلکار (مستري) د دیوال د خېژولو یا جوړولو د پیمائیش په دوران کښې استعمالوي. مغموم صبب په خپل فرهنګ کښې د یو بل شعر په حواله د سال معنا سیال او سوچه لیکلې ده. (وګورئ د خوشحال کلیات ، مغموم ، مخ۱۴۴۹ )

[4] د علم بدیع د تفصیل دپاره د اردو ژبې کتاب "عروض و بدیع د ډاکټر صابر کلوروي اوګورئ.

خوبیانو د پښتو شعر معیار او ارزښت سېوا کړې دے۔ او دا ئې د پښتو د لساني شعور په احساس د پښتو د ژبې د ترقۍ دپاره هم راوړي دي۔ ګني خوشحال خو پخپله وائي چې زۀ د شعر په کار باندې خوشحال نۀ يم خو چې خدا ے پاک مې دا مقال را په غاړه کړے دے نو دا په اصل کښې د پښتون قام د پوهیولو په سبب ئې ورته زما پام راګرځولے دے۔ لکه چې وائي ،

" زۀ د شـــعر پـــه کـــار هـــېڅ نـــۀ يـــم خوشـــحال
ولـــې خـــدا ے مـــې کـــړه پـــه غـــاړه دا مقـــال " ۴۲

# حوالې


۱ ـ ډاکټر راج ولي شاه خټک ، د پښتو ادبي تحریکونه ، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون ، جدون پرنټنګ پریس پېښور ، کال ۱۹۸۹ ، مخ ۳۷

۲ ـ پوهاند عبدالحی حبیبي ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، دانش خپرندویه ټولنه کابل ، چاپ ځائے اسد دانش معطبعه کابل ، دریم چاپ ۲۰۱۸ ، مخ ۴۹۳ او ۴۹۴

۳ ـ ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، روښانیان او پښتو ادب ، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ، جدون پرنټنګ پریس پېښور ،کال نومبر ۲۰۱۱ ، مخ ۲۲ او ۲۷

۴ ـ ډاکټر راج ولي شاه خټک ، د پښتو ادبي تحریکونه ، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون ، جدون پرنټنګ پریس پېښور ، کال ۱۹۸۹ ، مخ ۱۳۳ او ۱۳۴

۵ ـ بي بي مریم ، د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جائزه ، جدون پریس پېښور ، چاپ کال ۱۹۸۲ ، مخ ۱۳۷

۶ ـ پوهاند عبدالحی حبیبي ، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، دانش خپرندویه ټولنه کابل ، چاپ ځائے اسد دانش معطبعه کابل ، دریم چاپ ۲۰۱۸ ، مخ ۷۲۴ او ۷۲۵

۷ ـ ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، روښانیان او پښتو ادب ، پښتو اکیډیمي پېښور پوهنتون ، جدون پرنټنګ

پریس پېښور ، کال نومبر ۲۰۱۱ ، مخ ۳۰۴

۸ ، ډاکټر همایون هما ، غوره لیکونه ، (مجموعه مقالات د تقویم الحق کاکا خیل) ، کوثر پرنټنګ پریس مردان ، کال ۲۰۰۷ ، مخ ۱۳۹

۹ ـ ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، روښانیان او پښتو ادب ، پښتو اکیډیمي پېښور پوهنتون ، جدون پرنټنګ پریس پېښور ، کال نومبر ۲۰۱۱ ، مخ ۴۰۴

۱۰ ـ ډاکټر راج ولي شاه خټک ، د پښتو ادبي تحریکونه ، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون ، جدون پرنټنګ پریس پېښور ، کال ۱۹۷۹ ، مخ ۱۰۵

۱۱ . محمد نواز طائر ، روهي ادب ، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ، یوسف لودي سپین زر پرنټرز ، اول ځل چاپ ۱۹۷۷ ، مخ ۲۲۰

۱۲ ـ پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم ، د خوشحال بابا کلیات ، یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور ، کال ۲۰۱۲ ، مخ ۸۹۲

۱۳ ـ انیس ناگی ، شعری لسانیات ، فیروزسنز پرائیویٹ لمیٹڈ لاهور ، بار اول ۱۹۹۰ ، ص ۱۴، ۱۵

۱۴ـ پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، د خوشحال بابا کلیات ، مخ ۸۲۲
۱۵ـ هم دغه اثر ، مخ ۵۳۲
۱۶.هم دغه اثر ، مخ ۴۷۶
۱۷. هم دغه اثر ، مخ ۱۲۳
۱۸.هم دغه اثر ، مخ ۱۲۳
۱۹.هم دغه اثر ، مخ۱۵۶
۲۰. هم دغه اثر ،مخ ۱۲۲
۲۱.پروفېسر فضل میر خټک ، فضلیات ( د پښتو ادبي اصطلاحات) ، یونیورسټي بک ایجینسي خیبر بازار پېښور ، د چاپ ځاے اعراف پرنټرز محله جنګي پیښور ،دوئم اشاعت کال ۲۰۲۰ ، مخ ۳۶۱
۲۲.ډاکټر محمد همایون هما ، غوره لیکونه( تالیف)، (مقالات سید محمد تقویم الحق کاکا خیل)، کوثر پرنټینګ پریس مردان ،یونیورسټي بک ایجینسي پېښور ، کال ۲۰۰۷ ، مخ ۱۴۲
۲۳.هم دغه اثر ، مخ ۱۴۴
۲۴.پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، د خوشحال بابا کلیات ، مخ ۱۳۳۳ ، ۱۳۳۴ ، ۱۳۳۵
۲۵.ډاکټر محمد همایون هما ، غوره لیکونه ( تالیف ) ، (مقالات سید محمد تقویم الحق کاکا خیل) ، مخ ۲۱۰
۲۶.پروفیسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، د خوشحال بابا کلیات ، مخ ۱۳۳۵
۲۷.هم دغه اثر ، مخ ۱۲۲
۲۸.هم دغه اثر ، مخ ۱۲۳
۲۹. ډاکټر پرویز مهجور خوېشکے. د ارزاني کلیات (سمانه او څېړنه)، مخ ۲۰۶ او ۲۰۷
۳۰. پروفیسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، روښانیان او پښتو ادب ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، جدون پرنټینګ پرېس پیښور ، اشاعت ۲۰۱۱۲ ، مخ ۴۴۶
۳۱. ډاکټر راج ولي شاه خټک ،د پښتو ادبي تحریکونه ، مخ ۱۰۱
۳۲. ډاکټر پرویز مهجور خویشکے ، د ارزاني خویشکي کلیات ، مخ ۱۸۳
۳۳.هم دغه اثر ، مخ ۱۹۱
۳۴. سر محقق زلمے هیواد مل ، په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه ، چاپ ځاے شوکت پرنټنګ پریس لاهور ، دوهم کال ۱۳۷۳ ، مخ۱۲۵
۳۵.پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک ، د خوشحال بابا کلیات ، مخ ۱۵۳
۳۶. هم دغه اثر ، مخ ۱۵۳
۳۷. هم دغه اثر ، مخ ۸۹۶
۳۸.هم دغه اثر ، مخ ۱۲۴
۳۹. ډاکټر پرویز مهجور خویشکي ، د ارزاني خویشکي کلیات ( سمونه او څېړنه ) ، پښتو اکېډیمي

پېښور يونيورسټي ، جدون پرنټنګ پريس پېښور ، جون ۲۰۰۵ عيسوي ، مخ ۵۵
۴۰ـ ډاکټر يار محمد مغموم خټک ، روښانيان او پښتو ادب ، پښتو اکيډيمي پېښور يونيورسټي ، جدون پرنټنګ پريس پېښور ، نومبر ۲۰۱۱ عيسوي ، مخ ۴۱۹ او ۴۲۰
۴۱ـ پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم خټک ، د خوشحال بابا کليات ، يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور ، مخ ۱۲۲
۴۲ـ عبدالظاهر شکيب ، د خوشال خټک اشعار د قافيې ، فورم او بديعي ښکلا له نظره ، دويم خپرندوي مومند خپرندوي ټولنه جلال اباد ، کال ۱۳۹۱ ل ، ۲۰۱۲ ز ، مخ۳۲
۴۳ـ محمد نواز خان خټک د شيدو ، د تورے او د قلم خاوند ، اداره اشاعت سرحد قصه خواني بازار پشاور ، دوئېم ځل ۱۹۵۸ ، مخ۳۳
۴۴ـ پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم ، د خوشحال کليات ،مخ ۱۳۲
۴۵ـ هم دغه اثر ، مخ۱۵۷
۴۲- هم دغه اثر ، مخ ۱۵۵

**References**

1. Dr Raj wali shah khttak , DA pakhto adabi tahrikona , 197eshaw Acadmy Univirsity of Peshawar , jadoon printing press Peshawar , 1989 , page 37
2. Pohand Abdul-hayi habibi , Da pakhto Adbyato tareekh , Danish Khparandoya tolana Kabul , printed by Asad Danish mataba Kabul , third Adition 2018 , page 493 to 494
3. Dr yar Muhammad maghmoom khttak , Rokhanyaan Ao pakhto adab , pakhto Acadmy Peshawar Univirsity , jadoon printing press Peshawar , Novmber 2011 , page 66 to 67
4. Dr Raj wali shah khttak , Da pakhto Adabi tehrikona , Pashto Acadmy Peshawar Univirsty , jadoon printing press Peshawar , 1989 , page 133 to 134
5. Bibi Maryam , da pakhto da nasir tarikhi Ao tanqidi jayza , jadoon press 197eshawar, 1986 . page 137
6. Pohand Abdul hayi Habibi , Da pakhto adbyaato Tarikh , Danish khparadoya tolana Kabul , printed by Asad Danish matabaa , 2018 , page 724 to 725
7. Dr yar Muhammad magmoom khttak , Rokhanyaan Ao pakhto adab , Pashto Acadmy 197eshawar Univirsity , jadoon printing press Peshawar , Nomber 2011 , page 304
8. Dr Hamayoon Huma , Gwra Likoona (Majmowa Maqalat – taqweem ul Haq kaka khil) . kawsir printing press mardan , 2007 , page 139
9. Dr Yar Muhammad magmoom khttak , Rookhanyaan Ao pakhto adab , pashto Acadmy Peshawar Univirsity , jadoon printing press Peshawar , Nomber 2011 , page 404
10. Dr Raj wali Shah khttak , Da pakhto adabi tahrikona , pashto Acadmy Peshawar Univirsty , jadoon printing press 1989 , page 105
11. Muhammad Nawaz tair , Rohi Adab , pashto Acadmy Peshawar Univirsty , yusaf Lody speengar printers , 1977 , page 220
12. prof Dr yar Muhammad magmoom khttak , Da khshal baba Qoolyaat , Univirsity book Egincy khyber bazaar Peshawar , 2016 , page 896
13. Anees Nagy , shiri lisanyaat , Firooz sanaz private Limited Lahore , 1990 . page 14 to 15
14. prof dr Yar Muhammad magmoom khttak , da Khshal baba Qoolyaat , Univisty book Agincy Khyber bazaar Peshawar , 2016 , page 862
15. Do page ,536
16. Do , page 476
17. DO, 163
18. Do , page 163
19. Do , page 156
20. Do ,162

21. prof Fazil Mir Khttak , Fazlyaat , (Da pakhto Adabi Istilahaat) , Univirsity Book Egincy Khybar bazaar Peshawar , Araaf printirs muhlla jangi Peshawar , 2020 , page 361
22. Dr Muhammad Hamayoon Huma , Gwra Likoona (Maqlaat syed Muhammad taqweem ul haq kaka khil , kawsir printing press Mardan , 2007 , page 142
23. Do , page 144
24. Do , page 133 to 135
25. prof Dr Muhammad Humayoon Huma , Gwra Likona ,( Maqalaat syed taqweem ul Haq kaka khel kawsir printing press Mardan, 2007 , page 21
26. Prof Dr Yar Muhammad magmoom khttak , Da Khshal baba Qwlyaat , Univirsity book Agency khyber bazaar Peshawar , 2016 , page 1335
27. Do , page 162
28. Do , page 163
29. Dr perviz Mahjoor Khwiski , Da Arzani Qwlyaat , smawana Ao sirna , Pashto Acadmy Univirsity of Peshawar , Jadoon printing press Peshawar , Jun 2005 , page 206 to 207
30. Prof Dr Yar Muhammad magmoom Khttak , Rokhanyaan Ao pakhto adab , pashto Acadmy Univirsty of peshawar , jadoon printing press Peshawar , 2016 , page 446
31. Dr Raj wali shah khttak , da pakhto adabi tahrikona , Pashto Acadmy Univirsity of Peshawar , Jadoon printing press Peshawar , 1989 ,page 101
32. Dr prviz Mahjoor Khwishki , Da Arzani Khwiski Qwlyaat , Pashto Acadmy Univirsity of Peshawar , jadoon printing press Peshawar . 2005 , page 183
33. Do , page 191
34. sir mohaqeeq zalmay Hiwad mal , pa hind ki da pakhto jabay da adbiyato da ijaad aw da day parawona ,shoqat printing press Lahore , 1373 , page 125
35. Prof dr Yar Muhammad maghmoom khattak , Da Khshal baba Qwlyaat , Univirsity book aginciy Khyber bazaar Peshawar , 2016 , page 153
36. Do , page 153
37. Do , page 896
38. Do , page 124
39. Dr Prviz Mahjoor Khwiski , Da Arzani Khwishki qwlyaat , smawana Ao sirna , Pashto Acadmy Univirsity Peshawar , jadoon printing press Peshawar , Jun 2005 , page 55
40. Dr Yar Muhammad maghmoom khttak , Rokhanyaan Ao pakhto adab , pashto acadmy Univirsity of peshawar , jadoon printing press Peshawar , nov 2011 , page 419 to 420
41. Prof Dr Yar Muhammad maghmoom khttak , Da khshal baba Qwlyaat , univirsity book Agincy Kh yber bazaar Peshawar , 2016 , page 162

42. Abdul zahir shaqeeb , Da Khshal Khttak Ashaar da khfyi form Ao badyi khula la nazra , Momand Khprandavi Tolana Kabul ,2012 , page 32
43. Muhammad Nawaz Khan Khttak da shido , da tooray Ao qalam Khwand , Ashaat I sarhad Qisa khwani bazaar Peshawar , 1958 , page 33
44. Prof dr Yar Muhammad magmoom khttak , Da Khshal baba Qwlyaat , Univirsity book agency khyber bazaar Peshawar , 2016 , page 136
45. Do , page 157
46. Do , page 155